# د پطروس رسول دوهم لیک

## د کتاب پېژندنه

دا لیک پطروس رسول په ۶۷ میلادي کال کې د لومړنیو ایماندارانو ډلې ته لیکلی دی. د دې لیک اصلي مقصد د دروغجنو استاذانو د تعلیم او د هغه اخلاقي فساد په وړاندې ودرېدل دي چې د دې غلط تعلیم څخه سرچینه اخلي. پطروس خپلو اورېدونکو او لوستونکو ته مشوره ورکوي چې د خدای او څښتن عیسی مسیح د ربښتیني پېژندنې په وسیله د غلط تعلیم سره مبارزه وکړي. دا پوهه هغوی ته په خپله د عیسی د عیني شاهدانو له خوا ورکړل شوې ده چې عیسی یې لیدلی او د هغه تعلیم یې اورېدلی ؤ.

په هغه ټکي باندې چې پطروس په دې لیک کې ډېر ټینګار کوي، هغه د عیسی مسیح بېرته راتګ دی، ځکه چې په هغه وخت کې یو شمېر خلک په دې عقیده وو او تعلیم یې ورکاوه چې عیسی مسیح بېرته نه راځي. خو پطروس رسول هغوی ته وایي چې څښتن صبر کوي، ځکه چې نه غواړي څوک تباه شي، بلکې غواړي چې ټول د خپلو ګناهونو څخه توبه وباسي.

## د موضوعګانو لست

سلامونه: ۱:۱–۲
د خدای بلنه او غوره کول: ۱:۳–۱۲

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د مسيح د جلال شاهدان: ۱:۱۶–۲۱
جعلي پيغمبران او استاذان: ۲:۱–۲۲
د څښتن د راتللو ورځ: ۳:۱–۱۸

## سلامونه

١ ١ دا ليک د شمعون پطروس له خوا چې د عيسی مسيح
خدمتګار او رسول دی، هغو خلکو ته چې زمونږ د خدای او
خلاصوونکي عيسی مسيح د عدالت په وسيله يې زمونږ په شان
قيمتي ايمان ترلاسه کړی دی.

٢ د خدای او زمونږ د څښتن عيسی د پېژندلو له امله دې په
تاسو باندې ډېر زيات فضل او سلامتي وي.

## د خدای بلنه او غوره کول

٣ د څښتن الهي قدرت مونږ ته هرڅه چې د دينداری د ژوند
تېرولو دپاره ورته اړتيا لرو، راکړي دي. مونږ دا هرڅه د هغه چا په
پېژندلو سره ترلاسه کړي دي چې مونږ يې د خپل جلال او نېکۍ په
وسيله رابللي يو. ٤ د همدې شيانو په وسيله هغه زمونږ سره
ډېرې لويې او ارزښتناکې وعدې کړې دي چې د دې وعدو په وسيله
تاسو کولای شئ د هغه فساد څخه چې په نړۍ کې شته او د بدو
غوښتنو څخه پيدا کيږي، وتښتئ او د هغه په الهي ذات کې شريک
شئ. ٥ له دې امله پوره کوښښ وکړئ چې خپل ايمان په نېکۍ
او په نېکۍ سره د خدای پېژندنه، ٦ او د خدای په پېژندې سره په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل نفس باندې واک لرل او په خپل نفس باندې په واک لرلو سره
په صبر او زغم، صبر او زغم په دینداری، ۷ او دینداري د
ورورولی په مینه او د ورورولی مینه په پاکه مینه کامله کړئ. ۸
که چېرې په تاسو کې دا صفتونه موجود وي او په هغو کې وده
وکړئ، نو زمونږ د څښتن عیسی مسیح په پېژندګلوی کې به اغېزناک
او ګټور اوسئ. ۹ خو که په چا کې دا صفتونه نه وي، نو هغه لنډ
نظری او ړوند دی او د خپلو پخوانیو ګناهونو څخه پاکېدل يې هېر
کړي دي. ۱۰ نو ای خویندو او ورونو! ډېر کوښښ وکړئ چې دا
ثابته کړئ چې تاسو په رښتیا سره د هغو خلکو څخه یئ چې خدای
رابللي او غوره کړي دي. که داسې وکړئ، نو تاسو به هېڅکله
بې‌ایمانه نه شئ او ګناه به نه کوئ. ۱۱ نو په دې ډول به تاسو
زمونږ د څښتن او خلاصوونکی عیسی مسیح تلپاتې پاچاهۍ ته په
عزت سره ورننه شئ.

۱۲ نو زه به تل تاسو ته دا شیان در په یادوم، سره له دې چې
تاسو ورباندې پوهېږئ او په هغه حقیقت باندې چې تاسو ته ښودل
شوی دی، ټینګ ولاړ یئ. ۱۳ نو ځکه زه لازم ګڼم چې ترڅو
پورې چې ژوندی یم، نو تاسو به هڅوم چې دا شیان په یاد وساتئ.
۱۴ زه پوهېږم چې ډېر زر به خپل فاني وجود له لاسه ورکړم لکه
څنګه چې زمونږ څښتن عیسی مسیح ماته ښکاره ویلي دي. ۱۵ نو
زه به پوره کوښښ وکړم چې زما د مرګ نه وروسته به تاسو تل دا
خبرې په یاد وساتئ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مسیح د جلال شاهدان

۱۶ کله چې مونږ تاسو خبر کړئ چې زمونږ څښتن عیسی مسیح
به څنګه په قدرت سره راځي، نو مونږ هغو نکلونو پسې چې په
ځیرکۍ سره جوړ شوي دي ونه ګرځېدلو، بلکې مونږ په خپلو سترګو
د هغه لویي لیدلې ده. ۱۷ کله چې پلار خدای هغه ته عزت او
جلال ورکړ، مونږ هلته وو. په هغه وخت کې د خدای د بې‌شانه جلال
څخه یو اواز راغی چې ویل یې: «دا زما ګران زوی دی چې زه ترې
خوشحاله یم.» ۱۸ کله چې مونږ د هغه سره په سپېڅلي غره کې
وو، نو دا اواز مو واورېد چې د اسمان نه راغی.

۱۹ نو زمونږ باور په هغه پیغام باندې چې د پیغمبرانو له خوا اعلان
شوی ؤ، نور هم زیات شو. نو دا به ښه وي چې تاسو هغه پیغام ته
زیات پام وکړئ، ځکه چې دا د هغې ډیوې په شان دی چې په تیاره
کې ځلیږي، ترڅو سهار شي او د سهار ستوری ستاسو په زړونو کې
وځلیږي. ۲۰ خو د هرڅه نه مخکې باید په دې پوه شئ چې هېڅ
پیغمبر نه شي کولای چې له خپله ځانه د خدای د کلام څخه کوم
پیغام تفسیر کړي. ۲۱ ځکه چې د پیغمبرانو پیغام د انسان په اراده
نه دی راغلی، بلکې هغوی د روح القدس تر اغیزې لاندې د خدای
له خوا خبرې کړې دي.

## جعلي پیغمبران او استاذان

۲ ۱ خو لکه څنګه چې مخکې په اسراییلو کې هم جعلي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پيغمبران پيدا شوي وو، همداسې به ستاسو په منځ کې هم د دروغجن استاذان راپيدا شي. هغوی به په پټه تباه کوونکی او د غلطو عقيدو تعليم ورکوي. حتی هغوی به د هغه بادار نه هم انکار کوي چې هغوی يې په بيه اخيستي دي او په خپلو ځانونو باندې به ډېر زر تباهي راولي.
٢ ډېر خلک به د هغوی په غيراخلاقي لارو روان شي او د هغوی له امله به د عدالت لاره بدنامه شي.
٣ دا دروغجن استاذان به د خپل حرص له امله د هغو کيسو په ويلو سره چې له ځانه يې جوړې کړې دي، ستاسو څخه ګټه واخلي. خو خدای لا د پخوا نه دا پرېکړه کړې ده چې هغوی ته سزا ورکړي او د هغوی په تباه کولو کې به ځنډ رامنځته نه شي.

٤ ځکه خدای هغه فرښتې چې ګناه يې کړې وه بې‌سزا پرېنښودلې، بلکې دوزخ ته يې ولېږلې او په تيارو کندو کې يې واچولې چې په هغه ځای کې د قضاوت تر ورځې پورې وساتل شي.
٥ همدارنګه په پخوا زمانه کې يعني د نوح د توفان نه مخکې هم خدای څوک بې‌سزا پرېنښودل، بلکې د هغه وخت په بې‌دينه خلکو يې سيلاب راوست او يوازې نوح يې چې د خدای د عدالت وعظ کوونکی ؤ، د نورو اوو کسانو سره خوندي وساتل.
٦ وروسته بيا خدای د سدوم او عموره ښارونو ته سزا ورکړه او هغه يې په اور باندې له منځه يووړل او په ايرو يې بدل کړل، ترڅو د راتلونکې زمانې د بې‌دينه خلکو دپاره عبرت وي.
٧ خو خدای لوط چې نېک سړی ؤ او د بدکاره خلکو د غير اخلاقي چلند څخه تنګ شوی ؤ، وژغوره.
٨ ځکه چې هغه نېک سړی چې د هغوی په منځ کې اوسېده، د هغه پاک زړه به هره ورځ د هغوی د بدو کارونو په ليدلو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او اورېدلو څورېده. ۹ نو څښتن پوهېږي چې څنګه ديندار
خلک د خپلو ازمېښتونو څخه خلاص کړي او بدکاره خلکو ته د
قضاوت تر ورځې پورې په پرله پسې توګه سزا ورکړي، ۱۰ په
ځانګړې توګه هغه خلک چې د جسماني ناپاکو غوښتنو پسې ګرځي
او د خدای واک او اختيار سپک ګڼي.

دا د دروغجنو استاذانو بې‌پروايي او غرور دی چې اسماني روحاني
موجوداتو ته د کفر ويلو څخه نه وېرېږي. ۱۱ سره له دې چې
فرښتې د دې دروغجنو استاذانو څخه ډېرې قوي او غښتلې دي، خو
د څښتن په حضور کې په سپکو خبرو سره هغوی نه ملامتوي. ۱۲
دا خلک د بې‌شعوره ځناورو په شان د دې دپاره پيدا شوي دي چې
ونيول شي او ووژل شي. د کومو شيانو څخه چې خبر نه دي د هغو
په هکله سپکې سپورې وايي. نو هغوی به د ځنګلي ځناورو په شان
تباه شي. ۱۳ د نورو خلکو سره چې هغوی کومه بدي کړې ده نو
په بدل کې به يې بدي ووينې. هغوی په رڼا ورځ د عياشۍ نه خوند
اخلي. دروغجن استاذان بې‌شرمه او بې‌عزته خلک دي. کله چې
هغوی ستاسو سره په مېلمستيا کې کښېني، نو ستاسو د بدنامۍ سبب
ګرځي، ځکه چې هغوی په خپلې غولونې باندې خوشحالېږي. ۱۴
هغوی ښځو ته د زنا په سترګو ګوري او هېڅکله د ګناه څخه لاس نه
اخلي. هغوی هغه کسان چې په خپل ايمان کې ټينګ نه دي، په دام
کې رانيسي. د هغوی زړونه په حرص اموخته شوي دي او په هغوی
د خدای لعنت دی. ۱۵ هغوی سمه لاره پرېښې ده او بې‌لارې
شوي دي او د بعور د زوی بلعام په لاره روان دي چا چې د هغو
پيسو سره مينه لرله چې په بدو کارونو يې ګټلې. ۱۶ خو بلعام د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو بدو کارونو په خاطر ورتښل شو. ځکه چې يو خره د انسان په
ژبه خبرې وکړې او هغه نبي يې د لېونتوب د کارونو څخه منع کړ.

۱۷ دا خلک د وچو چینو په شان دي او د هغو ورېځو په شان دي
چې باد يې وړي راوړي. خدای د هغوی دپاره په تورو تيارو کې
ځای تيار کړی دی. ۱۸ هغوی لافې وهي او بې‌عقلې خبرې کوي.
او د جسماني غوښتنو څخه په کار اخيستلو سره هغه خلک په دام
کې رانيسي چې همدااوس د هغو خلکو څخه تښتېدلي دي چې په
ګمراهۍ کې ژوند تېروي. ۱۹ هغوی ته د ازادۍ وعده ورکوي خو
حال دا چې په خپله د فساد غلامان دي، ځکه څوک چې د کوم شي
تابع وي، نو د هغه غلام هم دی. ۲۰ ځکه کله چې هغوی زمونږ د
څښتن او خلاصوونکي عيسی مسيح د پېژندنې په وسيله د دې نړۍ
د ناپاکيو څخه خلاص شول او بيا وروسته په هغو ناپاکيو کې راګېر
او هغوی يې لاندې کړل، نو د هغوی وروستنی حال به د اول نه هم
ډېر بد وي. ۲۱ ځکه چې د هغوی دپاره به دا ښه وای چې
هېڅکله يې د عدالت لاره نه وای پېژندلې، له دې نه چې ويې پېژني
او د هغه سپېڅلي حکم څخه مخ واړوي چې ورته ورکړل شوی دی.
۲۲ د هغوی سره چې څه وشول نو دا متل يې په هکله رښتيا
کېږي: «سپی خپلې کانګې بېرته خټي.» او «لمبول شوی خوګ بېرته
په خټو کې رغړي.»

## د څښتن د راتللو ورځ

**۳** ۱ ګرانو دوستانو! دا دوهم ليک دی چې تاسو ته يې ليکم. په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دواړو لیکونو کې مې هڅه کړې ده چې د دې شیانو په یادولو سره ستاسو په ذهنونو کې پاک خیالونه راپیدار کړم. ۲ زه غواړم تاسو ته هغه خبرې چې مخکې سپېڅلو پیغمبرانو درته کړې دي او زمونږ د څښتن او خلاصوونکي هغه حکم در په یاد کړم چې د خپلو رسولانو په وسیله یې درکړی دی. ۳ د هرڅه نه مخکې باید تاسو خبر شئ چې په اخرنیو ورځو کې به داسې مسخره خلک راپیدا شي چې د خپلو بدو غوښتنو سره سم به ژوند تېروي او په تاسو باندې به ملنډې وهي. ۴ هغوی به وايي: «هغه چا چې وعده کړې ده چې راځي، هغه وعده څه شوه؟ ځکه د کوم وخت نه چې زمونږ نیکونه مړه شوي دي، نو هرڅه هماغسې روان دي لکه څنګه چې د نړۍ د پیدایښت له وخته روان وو.» ۵ هغوی په قصدي ډول دا هېروي چې ډېر پخوا خدای حکم وکړ او اسمانونه پیدا شول. او د خدای د حکم په وسیله ځمکه د اوبو څخه بېل شوه او د اوبو نه وچه ځمکه رامنځته شوه. ۶ همدارنګه د اوبو یعنې د سېلاب د اوبو په وسیله هغه پخوانۍ نړۍ د اوبو لاندې ډوبه او تباه شوه. ۷ خو موجوده اسمانونه او ځمکه د خدای د هماغه حکم په وسیله ساتل شوي دي، ترڅو هغه د اور په وسیله له منځه یوسي. هغه اسمانونه او ځمکه به تر هغې ورځې پورې وساتل شي چې د بېدینه خلکو په هکله قضاوت وشي او هغوی تباه شي.

۸ خو ګرانو دوستانو! یوه خبره مه هېروئ چې د څښتن په نظر کې یوه ورځ د زرو کلونو او زر کلونه د یوې ورځې په شان دي.
۹ څښتن په خپله وعده کې ځنډ یا سستي نه کوي لکه څنګه چې ځینې خلک یې ځنډ ګڼي. هغه تاسو ته صبر کوي، ځکه نه غواړي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې څوک تباه شي، بلکې غواړي چې ټول د خپلو ګناهونو څخه
توبه وباسي. ۱۰ خو د څښتن ورځ به لکه د غل د راتلو په شان
راځي. په هغه ورځ به اسمانونه په يو هيبتناکه اواز له سترګو پناه شي،
اسماني موجودات به وسوځي او له منځه به لاړ شي او ځمکه او
هرڅه چې په هغې کې دي هغه به له منځه لاړ شي. ۱۱ نو څرنګه
چې دا ټول شيان په دې ډول له منځه تلونکي دي نو تاسو بايد څه
ډول اوسئ؟ تاسو بايد پاک او په دينداری کې ژوند تېر کړئ. ۱۲ د
خدای د ورځې راتګ ته سترګې په لاره اوسئ چې زر راشي. په هغه
ورځ به اسمانونه وسوځي او له منځه به لاړ شي او اسماني موجودات
به د ګرمۍ له لاسه ويلي شي. ۱۳ خو مونږ د خدای د وعدې له
مخې د نويو اسمانونو او ځمکې انتظار کوو چې په هغو کې به عدالت
ټينګ شي.

۱۴ نو ګرانو دوستانو! څرنګه چې تاسو د هغې ورځې انتظار کوئ،
نو ډېر کوښښ وکړئ چې د خدای په نظر کې پاک او بې‌عيبه اوسئ
او په سوله او سلامتي کې خپل ژوند تېر کړئ. ۱۵ زمونږ د څښتن
صبر يو خلاصون وګڼئ، لکه څنګه چې زمونږ ګران ورور پولوس هم
د هغه حکمت له مخې چې خدای ورته ورکړی دی تاسو ته ليکلي
دي. ۱۶ هغه په خپلو ټولو ليکونو کې د دې شيانو په هکله خبرې
کوي. په هغو کې ځيني داسې خبرې شته چې پوهېدل ورباندې ګران
دي او ناپوهه او بدلېدونکي خلک هغه د پيغمبرانو د نورو ليکنو په
شان غلط تعبيروي، نو هغوی په خپلو ځانونو باندې تباهي راولي.

۱۷ ګرانو دوستانو! خو تاسو له مخکې نه خبر يئ، نو پام کوئ،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هسې نه چې د بې‌اصوله خلکو د غلط تعليم له امله بې‌لارې شئ او
خپل استقامت او په ايمان کې ټينګوالی د لاسه ورکړئ. ۱۸ بلکې
زمونږ د ښتن او خلاصوونکي عيسی مسيح په فضل او پېژندنه کې
پرمختګ وکړئ. ثنا دې وي هغه ته اوس او تل ترتله. امين!


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.